د اصحابو کیسې 2

# د شودو مور

## بي بي حليمه سعديه

ليکوال: مهدي وحيدي صدر
ژباړه: محمدرحيم دراني

د کتاب نوم: د وحی خپریدا
لیکوال: مهدي وحیدي صدر
ژباړه: محمدرحیم دراني
د متن علمي کارپیژاندې: محمد هادي یوسفي غروي
د اینځورونو کارپیژاندې: سید محسن موسوي
ویراستار: عبدالرحیم دراني
طراحي او اجرا: د نور کوثر سیماي شرکت
اینځورګر: حکیمه شریفي
رنګ ورکوونکے: اشرف حسیني
خپروونکے: د اهلبیتو د نړیوالې غونډې د کلتوري چارو مرستیال
د چاپ وار: لومړی
د خپریدو تاریخ: 1388
چاپخانه: لیلی
چاپ ګڼه: 5000
شابک:
د دورې شابک:

---

د چاپ حق محفوظ دے

www.ahl-ul-bayt.org

د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم له پیدا کیدو به یوڅو ورځې نه وې شوې. د مکې د غتهو خلکو دا دستور ؤ چې خپل زامن به یې د کلیو وسیدونکو دایانو ته سپارل چې د مکه له ښاره لرې د کلی صحراګانواو د مورنی ژبه عربی په غیګه کښې لوې شي. عبد المطلب د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نیکه او سرپرست هم په دې لټه کښې وو چې د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لپاره یوه مناسبه دایښه وګوري. او هم د دې لپاره یو څو دایانی د آمنه کور ته په تمه راغللې خو دې ماشوم د یوې ښځې شودې هم ونه څښلے. په دې کې د عبدالمطلب یو ملګري وویل: زۀ د عرب په ښځو کښې یوه ښځه پیژنم چې هم رښتینې ده او هم له نورو دایښو نیکه ده. عبدالمطلب ترې پوښتنه وکړه : دهغی نوم څه دے؟ هغه ځواب ورکړ: هغه د قبیله بنی سعد څخه ده چې نوم یې حلیمه دے. عبدالمطلب د حلیمه پلار ته ورغے او هغه ته یې وویل: زه غواړم چې ستا لور د خپل ځوي محمد(ص) لپاره دایې ونیسم. د حلیمی پلار وویل : زۀ دوه لوڼه لرم ته کومه یاده وې. عبدالمطلب ورته وویل : کومه یوه چې عقلمنده، ډیرو شودو والا، مهربانه او پرهیزګاره وي. د حلیمه پلار وویل : زه به درته حلیمه یاده کړم چې خور یې هم هغی ته نرسې ځکه چې حلیمې ته الله عقل، رښتینولي او پوهه ورکړې ده.

حلیمه د عبدالمطلب سره د هغه کور ته روانه شوه چې حضرت محمد صلی الله علیه واله وسلم د مور بی بی نه واخلی. کله چې حلیمه دا خوش بختـه ماشوم واخستـه نو خپل بخت یې هم ورسره ښه شو. او محمد صلی الله علیه واله وسلم هم چې کله خپله دایې ولیده

نو خوشحال شه. عبدالمطلب او بی بی آمنه چې ماشوم خوشحال ولید نو هغوي هم خوشحال شو. او په ښه زړه یې محمدصلی الله علیه وآله وسلم حلیمه ته وسپاره. حلیمې د آمنه ماشوم له ځان سره خپل کلی ته راوست له دې ښکلی ماشوم راتلو سره دحلیمې په ژوند کښې له هره خوا خوشحالیانې او برکتونه راټول شول او بیا دا برکتونه او خوشحالې د بنی سعد د قبیلې قسمت وګرزیدې.

آسمان بارانونه وورول ، ځمکې زرغونې شوې ، د ګډو بیزو رمې زیاتی او اوښان یې هم زیات شو. په قبیله کښې امن او خوشحالي راغله. او دا ټول برکتونه او خوشحالې د محمدصلی الله علیه وآله وسلم له مخه وې. حلیمه چې د خپلې قبیلې یوه پوهه او بزرګه ښځه وه په دې هر څه پوهیده چې دا هر څه د دې پاک ماشوم په برکت دي. له دې پرته د حلیمې زړه ددې ماشوم سره داسې ولږید چې د خپلو ماشومانو نه به یې دهٔ سره زیاته مینه کوله. ځکه چې د دې ماشوم له مقامه خبر وه حلیمه د آمنه په دې ځوي کښې هره ورځ نوې نوې اوعجیبه نښې او معجزې لیدلې.

حلیمه سعدیه ، په خپل قوم او کلي کښې یوه پاکه او مهربانه ښځه یادیده او هم دا وجه وه چې الله تعالی ورله دا فضیلت ورکړوچې محمدصلی الله علیه وآله وسلم ته شودې ورکړي. حلیمه د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم لپاره ښه اومناسبه دائی وه. هغې دوه کاله پیامبر صلی الله علیه وآله وسلم ته شودې ورکړې او له څلورو کالو یې زیات ځان سره ووسولو چې په ښې طریقې یې تربیت کړ. له دې پس حلیمې هغه ځان سره مکې ته راوست او خپل مور بي-بي او نیکه ته یې حواله کړ. حلیمه به خپلو ټولو کوششونو او خواریو

سره د پیامبر صلی الله علیه وآله وسلم خدمت کولو او د هغې ورسره دومره مینه وا چې د خپلو بچو نه به یې زیاته مینه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره کوله. هغه به د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم نه یو ساعت هم نه جدا کېده. او کله چې د دې مبارک وجود برکتونه ولیدل نو پوهه شوه چې دې ماشوم ته د الله خاص نظر دے او هر وخت به یې چې رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره خبرې کولوې نو ورته به یې ویل: اے ځما خوږه ځویه! د آسمانونو په خدائې مې دې قسم وي چې ته ماته د خپل ځوي د سترګو تور ((ضمره)) نه زیات ګران یې .آیا داسې به هم وشي چې زۀ به ژوندې یم او تا چې ځنګه په ماشومتوب کښې وینم داسې به دې لوي هم ووینم ؟)).

د حلیمې زړه محمدصلی الله علیه وآله وسلم سره داسې ولړید چې د هغه مینې به ورله روحاني خوشحالي ورکوله او دې مینې به ورله یو ساعت هم د جدا کېدلو اجازت نه ورکول. حلیمه په دې خبرو پوهیده چې محمد صلی الله علیه وآله وسلم به یوه ورځ لوي مقام مومي او هغه به د خلقو په زړونو کښې لارې کوي . ځکه چې د هغه عادتونه او خبرې د ماشومانو پشان نه دي. په ماشومتوب کښې هم د هغه ژبه روانه چلیده او خبرې به یې همیشه سمې او منطقی وې. چرته یې داسې کار نه کولو چې حلیمه پرې آزار شي. هغه چرته لوبې او بےهوده کارونه نه کول. همځولي به هم نه آزارول له هغه چرته غلط کار نه و شوې چې پې ورستو پرې پښیمانه شوے وي. دې کم عمرۍ سره سره د هغه توکل او ډوله توجه الله ته وه حلیمه به تعجب کولو چې محمد صلی الله علیه وآله وسلم کښې د ادب

اخلاقو او انسانیت هیڅ کمي نشته هغه څه چې نورو ماشومانو ته ورزده کول غواړې، هغه هر څه په محمد صلی الله علیه وآله وسلم کښې تر پوره حده موجود وو او هغې ته محتاج نه و.

هغه ته همیشه د پروردګار خاص پاملرنه وه الله قادر او توانه خپل دې نیازبین بنده ته علم ،حکمت او عصمت ورکړې و. حلیمه په دې هر څه پوهیده خو د هغې ارمان دا و چې محمدصلی الله علیه وآله وسلم په ځوانۍ کښې ووینې. هغې غوښتل چې په راتلونکې وخت کښې د دې ماشوم مقام او عزت په خپلو سترګو ووینې.

کلونه تیریدل محمد صلی الله علیه وآله وسلم لوی شه خو د حلیمې هغه خدمتونه او مینه یې نه وو هېر کړي ځکه چې د محمد صلی الله علیه وآله وسلم مقام له دې ډیر اوچت و چې د حلیمه احسانونه به یې هیرول. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به همیشه په دې لټه کښې و چې د حلیمې د احسانونو، مینې او فداکاریانو جبران وکړي. درسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د حضرت خدیجه سلام الله علیها سره د وادهٔ نه پس یو ورځې حلیمه مکې ته محمد صلی الله علیه وآله وسلم له راغله. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د هغې احترام وکړو او خپل څادر یې هغې ته خپور کړ او حضرت خدیجه هم څلویښت ګډان او یو اوخ هغې ته هدیه ورکړل. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په دې درناوي نورو خلقو ته دا سبق ورکوې چې د مور او هغه چا څه مقام دے چې ستا مورولي یې کړې وي. حلیمه هغه ښځه وه چې په قسمت کښې یې رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته شودې ورکول لیکلي وو. هغې به ویل: په هغه څوکالو کښې چې د محمد صلی الله علیه وآله وسلم خدمت مې کول

ډير څه مې د هغه نه زده کړي دي. هغې به هم د رسول الله صلی الله علیه وآل وسلم ډير قدر کول.

پيژندګلوي:

نامه: حليمه

د پلار نامه: عبدالله، (سعد بن بکر)

شهرت، سعديه

قبيله: بنی سعد

د اوسيدو ځای: د مکې په خوا و شا کښې

---

سرچينې:

مجلسی، بحارالانوار 15ټوک، 344، 342، 346مخونه،

قمي ، کُحل البصر، 51- 53مخونه،

يوسفی غروی، موسوعه التاريخ الاسلامي، 1ټوک، 222مخ.


د اهلبيتو(ع) نړيوالې ټولنې د اسلامي کلتور د رواج کولو لپاره دا کتاب خپور کړے دے،
اولياء، روزونکي او لوستونکي خپل وړانديزونه او نيوکې په دې پتې راليږلے شي.

د کلتوري چارو مرستيال



ټيليفون: 0251-2131451 فيکس: 0251-2913100

صندوق شميره: 837-37185

Web Site: www.ahl-ul-bayt.org E,mail: info@ahl-ul-bayt.org